دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

فرمان الهی

هنگامی که آنها (منافقین) را می بینی، جسم و قیافه آنان تو را در تعجب فرو می برد؛ و اگر سخن بگویند، به سخنانشان گوش فرا می دهی؛ اما گویی چوبهای خشکی هستند که به دیوار تکیه داده شده اند! هر فریادی از هر جا بلند شود (آنرا) برضد خود می پندارند؛ آنها دشمنان واقعی تو هستند، پس از آنان بر حذر باش! خداوند آنها را هلاک کند، چگونه از حق منحرف می شوند؟!

(سورة المنافقون، آیت ۴)

نبوی ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

له حرامو نه ځان وساته چې تر ټولو نه زيات عابد جوړ شې، په قضا او قدر راضي اوسه چې له ټولو نه زيات غني شې، له خپلو ګاونډيانو سره نيکي وکړه چې کامل مؤمن شې. کوم څيز چې ځان لپاره خوښوې هغه د بل مسلمان لپاره هم خوښ کړه چې کامل مسلمان شې. ډېره خندا مه کوه چې دا زړه مړ کوي.

(احمد ترمذي)

شهادت | دويم کال، ۵۸ مه ګڼه، | چهار شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د غويي ۲۹ مه | د۱۴۳۱ هـ ق د جمادی الاخر ۵ مه | د ۲۰۱۰ م د مۍ ۱۹

اظهارات کریم خلیلی در مورد جنگ کوچی ها و هزاره ها

PROPERTY OF ACKU

به دنبال درگیری های خونین میان کوچی ها و هزاره ها در ولسوالی بهسود ولایت میدان وردک، مقامات دولتی افغان می گویند که این نبرد ها حرکت های به هدف جلوگیری از تلاش های صلح در این کشور است.

محمد کریم خلیلی معاون دوم رییس جمهور افغانستان عصر روز دوشنبه در کابل به خبرنگاران گفت که در این نبرد ها هزاره ها و کوچی های ساکن در این منطقه نقش ندارند، بلکه گروه های دیگر هستند که تلاش دارند وضعیت را مختل بسازند.

آقای خلیلی در ادامه گفت:

"حلقات هستند که در شرایط کنونی چنین فضای را به وجود می آورند. باید این افراد شناسایی شوند و برخورد جدی با آنها صورت گیرد. اگر جلو چنین شرایط زود گرفته نشود، تاثیر پذیر خواهد شد".

قبلاً مقامات وزارت داخله افغانستان و مسوولین محلی در ولایت میدان وردک گفته اند که درگیری های مسلحانه میان کوچی ها و هزاره ها بالای حق مالکیت علفچر ها و زمین ها به وقوع پیوسته است که خسارات و تلفاتی نیز در پی داشته است.

به گفته معاون رئیس جمهور افغانستان، این درگیری ها منجر به تخریب دکانها و بخشی از بازار اصلی ولسوالی بهسود میدان وردک گردیده است.

محمد کریم خلیلی گفت که ممکن است کسانی در داخل حکومت و هم در صفوف مخالفین درعقب این نبرد ها قرار دارند، اما وی از کسی و یا گروهی نام نگرفت.

ولی مسوولین امنیتی را به خاطر عدم رسیده گی به تامین امنیت...

بقیه در صفحه ۴

د امریکا او پاکستان ستراتیژیکې خبرې اترې

دويم مخ

کمسیون انتخابات حق حذف نام کاندیدان را از فهرست ابتدایی ندارد

از میان دو ۲۲۶ کاندید انتخابات ولسی جرگه که نام های شان شامل فهرست ابتدایی نامزدان این انتخابات نشده، حدود ۲۰ تن آنان به کمسیون مستقل انتخابات افغانستان یک روز مهلت داده اند تا از این تصمیم اش صرف نظر کند.

عبدالجبار ثابت یکی از کاندیدان حذف شده از فهرست ابتدایی انتخابات ولسی جرگه که به روز دوشنبه به نماینده گی از حدود ۲۰ نامزد معترض دیگر این انتخابات صحبت می کرد، شامل نساختن نام های ده ها کاندید در فهرست ابتدایی انتخابات ولسی جرگه را عمل خلاف قانون دانست.

وی در ادامه گفت:

"قانون انتخابات به کمسیون مستقل انتخابات اجازه نمی دهد که نام کاندید را از فهرست ابتدایی حذف کند، این از صلاحیت های کمسیون شکایات انتخاباتی است.

کمسیون مستقل انتخابات تخطی های شماری از کاندیدان را هم معاف کرده است.

ما خواهان اعاده حیثیت ....

بقیه در صفحه ۴

نا امنیو په مارجې کې د بیارغونې محه نیولې ده

د طالبانو پرله پسې تاوتریخوالي په مارجې کې د بیارغونې کارونه ورو کړي دي، مارجه له ډېره وخته د طالبانو د حضور سیمه وه، اوس نو د امریکا د هغې ستراتیژۍ په اړه پوښتنې پیدا شوې، چې ټاکل شوې په راروانه میاشت، په څنګلوري ولایت کندهار کې عملي شي.

د مارجې له پوځي عملیاتو وروسته امریکایي او افغان چارواکو ویلي وو چې دوی به په دې ولسوالی کې د اقتصادي ودې په هدف پر څینو پروژو په ملیونونو ډالره مصرف کړي.

دوی ویلي چې په لسګونو سیمه ییزو خلکو ته به د کار زمینه برابره کړي، چې د اوبو لګولو سیستم فعال کړي، خپل زابران یا کانالونه پاک کړي او د سړکونو په جوړولو کې برخه واخلي. دغه عملیات په فبرورۍ میاشت کې شوي وو.

د امریکایي چارواکو د تېرې اوونۍ د معلوماتو له مخې واشنګټن تر اوسه په مارجې کې یونیم ملیون ډالره مصرف کړي، حال دا چې په پیل کې د مارجې د ملکي پروژو لپاره ۱۹ ملیونه ډالره په پام کې نیول شوي وو.

ناټو وايي چې په مارجې کې یې درې نیم ملیونه ډالره مصرف کړي، خو تاوتریخوالي او ناامنی پر بیارغونې او د کارمونډنې پر چارو اغېز کړی

په مارجې او شا و خوا سیمو کې د طالبانو د حملو له کبله دغه پیسې مصرف نه شوې.

ناټو وايي چې په مارجې کې یې درې نیم ملیونه ډالره مصرف کړي، خو تاوتریخوالي او ناامنی پر بیارغونې او د کارمونډنې پر چارو اغېز کړی.

په دې وروستیو اوونیو کې وسلوالو طالبانو په مارجې کې د هغو افغان کمپنیو له جملې پر یوې برید وکړ، چې د امریکا په مالي مرسته یې فعالیت کاوه...

پاتې ٤ مخ

ولسي جرګه د کوچیانو او هزارو د شخړو په اړه له حکومت سره جدي خبرې کوي

د افغانستان ولسي جرګه وايي، چې په میدان وردکو ولایت کې د کوچیانو او هزارو ترمنځ روانه جګړه باید ژر پای ته ورسیږي او د دوی تر منځ د خمکې او څړ ځایونو پر سرموجوده ستونزه هواره شي. د ولسي جرګې غړو د دوشنبې ورځې په عمومي غونډه کې وروسته ترهغې په دې مسئلې بحث وکړ.

وروسته ترهغې چې په میدان وردکو ولایت کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو هزارو ترمنځ د څړ ځایونو پر سر د نښتو او مړګ ژوبلې راپورونه خپاره شول ولسي جرګه وايي، چې د دې ستونزې د حل لپاره به له اړوندو حکومتي ارګانونو سره جدي خبرې وکړي.

دا پریکړه وروسته ترهغې وشوه، چې په ولسي جرګې کې د هزارو یو شمېر استازو د میدان وردکو ولایت په بهسود او دای مرداد ولسوالیو کې د کوچیانو له خوا د دوی د ځمکو د غصبولو په اعتراض د ولسي جرګې غونډه تحریم کړه.

د ولسي جرګې د ډېر شمېرغړو له بحثونو او خبرو اترو وروسته د دې جرګې رییس محمد یونس قانوني وویل، چې د دې ستونزې د حل لپاره به دی په خپله له حکومتي چارواکو سره خبرې وکړي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د میدان وردکو ولایت په بهسودو ولسوالی کې د څړ ځایونو پر سر د ځایي اوسیدونکاو کوچیانو تر منځ د ورمې ورځې نښته تایید کړه خو د دې وزارت چارواکو په دې نښته کې دواړو خواوو ته د اوښتو ....

پاتې ٤ مخ

د دارلامان چاودنې درنه ملکي مرګ ژوبله اړولې ده

په کابل ښار کې دسې شنبې دورځې دسهارپه خان وژونکي حمله کې نږدې شپیتو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې چې ښځې اوماشومان هم په کې شامل دي. دکابل امنیتي چارواکي وایي چې دا ځان وژونکي حمله دسهارپه اته نیموبجودکابل ښارپه لویدیځه څنډه ددارالامان ماڼۍ ته نږدې دبهرنیوځواکونوپه کاروان شوې.

دکابل دامنیې قومندانی مرستیال جنرال خلیل الله دستیاردپیښې په ځای کې خبریالانوته وویل چې په دې پیښه کې دبهرنیو عسکرو ترڅنګ لس تنه ملکي کسان هم وژل شوي اواوه څلویښت تنه ملکي وګړي ټپیان شوي هم دي:

"په دې ځان وژونکي حمله کې ملکي کسان چې ماشومان، ښځې، ځوانان اوسپین ږیري پکې شامل دي...

پاتې ٤ مخ

لوړو زده کړو وزارت ۶ خصوصي پوهنتونونو ته د فعالیت جواز ورکړ

په داسې حال کې، چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو د خصوصي ادارو شمېر ورځ تر بلې زیاتیږي، د لوړو زده کړو وزارت په دې ادارو کې د زده کړو د معیاري کولو لپاره ځینې پروګرامونه ترلاس لاندې نیولي دي. د لوړو زده کړو سرپرست وزیر سرور دانش د یکشنبې پر ورځ په کابل کې د لوړو زده کړو شپږو خصوصي پوهنتونونو ته د فعالیت د جواز ورکولو په مراسمو کې وویل:

چې د لوړو زده کړو وزارت په هېواد کې د خصوصي پوهنتونونو له جوړولو ملاتړ کوي، خو دغه پوهنتونونه باید د زده کړې کیفیت او معیار ته ډېره پاملرنه وکړي.

ښاغلي دانش وویل، هغه خصوصي پوهنتونونه چې په ولایتونو کې فعالیت کوي د مرکز په پرتله ورته ډېر امتیازات ورکول کیږي.

نوموړي له خصوصي پوهنتونونو غوښتنه وکړه، چې وروسته له دې دې ولایتونو ته هم خپلې څانګې وغځوي:

"د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي، چې د لوړو زده کړو د خصوصي پوهنتونونو له پراختیا څخه ملاتړ وکړي او وروسته له دې به مونږ د لوړو زده کړو ...

پاتې ٤ مخ

د سره رود پیښې او ترشا یې پرتې انګیزې

دریم مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د اولس له ملاتړ پرته مستحکم حکومت نشي راتلی

دا یو منل شوې حقیقت دی چې په یو هیواد کې هله رښتونی امن او ولسواکی راتلی شي چې دهغه هیواد د اوسیدونکو ښستېزې غوښتنې په پام کې ونیول شي او دهغوی د خوښې نظام او قانون په عملي توګه پلې شي، تر څو پوري چې ولس ته دا ډاډ او یقین نه وي ترلاسه شوې چې دهغوی غوښتنې واقعاً په نظر کې نیول شوي او په ټول هیواد کې عملاً پلی شوې دي نو په هغه هیواد کې هر ګز امن او استحکام نه شي راتلي.

دا صحیح ده چې د افغانستان وګړي هم د انسانانو په توګه ډېرې نیمګړتیاوې لري او ډېرې داسې کړنې ترینه صادرېږي چې د اسلام په سپېڅلي دین کې ورته حرام ویل شویدي خو ددې مطلب هر ګز دا نه دی چې هغوی د اسلام له مقدس دین سره مینه نلري او یا هم د اسلامي شریعت نفاذ او تطبیق نه غواړي. که یو مسلمان د عمل په ډګر کې څومره سست او لټ ولې نه وي مګر هغه کله هم دا نه غواړي چې په خپل هیواد کې د اسلامي عقیدې او اسلامي فرهنګ پر ځای بله عقیده او بل فرهنګ پلې شي.

هر افغان که هغه ګنهګار دی او که نیک له اسلامي اقدارو سره کلکه مینه لري، په نفاذ یې نه یواځې دا چې خوښي څرګندوي بلکې عملاً ملاتړیی هم کوي. همدغه راز د افغانستان مسلمان وګړي د خپلې عقیدې او کلتور له مخې له خپل استقلال او خپلواکی سره هم ټینګه مینه لري، هغوی کله هم دا نه غواړي چې د بل چا باداري او حاکمیت په ځان ومني، دهغوی په رګونو رګونو کې د استقلال او خپلواکی وینه ټوپونه وهي او د پردیو له شتون سره زبردست حساسیت لري.

د اولس له خبرو او څرګندونو دا حقیقت ترلاسه کېږي چې هغوی په لومړی ګام کې پخپل هیواد کې د یو محسوس رښتوني اسلامي حکومت له نشتوالی نه سرټکوي، او په دویم ګام کې پخپله خاوره کې د پردیو ځواکونو د باداري او دهغوی له بې باکی او خود سریو څخه ژوره اندېښنه لري. له یو نیم پرته داسې افغان نه تر سترګو کیږي چې د افغانستان له اوسني حالاتو نه ډاډمن او خوښ وي.

څرګنده خبره ده چې کله د یو هیواد وګړي نه د خپلې عقیدې او دین مطابق له قانونه برخمن وي او نه هم له خپل استقلال او راتلونکې څخه ډاډمن وي نو هلته داسې مضبوط حکومت کله هم نشي قائمدلی چې د اولس بشپړ ملاتړ له ځانه سره ولري، او هر هغه حکومت چې د اولس اعتماد له ځانه سره نه لري هغه په هیواد کې کله هم امن، عدالت او یووالی نه شي تأمینولی.

که چېرته د افغانستان چارواکی او بهرني نړی واقعاً په افغانستان کې امن اوغښتلی حکومت غواړي نو په افغانستان کې د تش په نوم اسلامي جمهوریت پر ځای د یو داسې اسلامي نظام پلی کول ضروري دي چې د ژوند په هر ډګر او هره ځانګه کې نافذوي او د افغانستان مسلمان اولس د بې عدالتي، بډې اخستنې، ظلم، جبر، فحاشي او نورو لسګونو ناروا او څخه خلاصون ومومي.

د افغانستان ډېرې وګړي له حکومتي چارواکو سره ځکه خپل ملاتړ نه ښکاره کوي چې هغوی د خپل هیواد په ادارو کې د خپلې خوښې اسلامي قانون نه ویني، د اسلامي فرهنګ د ودې او اسلامي اقدارو د پیاوړي کولو لپاره عملي اقدام نه محسوسوي. راډیو تلویزون او رسنۍ له اخلاقه پریوتي سندري او نڅاګانې وړاندې کوي په ۲۴ ساعتو کې یو ساعت هم اسلامي خپروني او تعمیري پروګرامونه نه تر سترګو کیږي، په داسې حال کې چې د افغانستان ولس د سندرو، ډمامو او نڅاګانو پر ځای د خپل دین او نبوي اخلاقو د زده کولو ضرورت لري. په دولتي ادارو کې په مطلق ډول نا انصافي او رشوت دی او هر څوک د خپل جائز کار د ترسره کولو لپاره زرګونه افغانۍ او ډالر رشوت ورکوي.

داسې یو هیواد چې ولس یې له خپل خوښ نظام څخه محروم وي. د عدل او انصاف جنازه وتلې وي ځنګه کولې شي چې د خپلو چارواکو په خلاف خپل عکس العمل ښکاره نه کړي؟ ! د نړۍ په سر داسې کوم هیواد نشته چې اولس یې د فاسدې اداری او فاسدو چارواکو په خلاف خپل عکس العمل نه وي ښودلې. په کرغیزستان کې ولس ځکه خپل ولسمشر له تخت او تاجه وغورځاو چې هلته اداري فساد و، بې عدالتي او نا انصافي و، همدغه راز په ښکاک کې ولس ځکه په مظاهرو او مارشونو لاس پورې کړې دی چې هلته حکومت اولس ته د یو ښه حکومت او ښه نظام په ورکولو کې پاتې راغلی دی. په ایران او روسیه غوندې هیوادو کې ځکه انقلابونه راغلل چې چارواکی یې خپل ولس ته دهغوی د خوښې نظام او عدالت په ورکولو کې ناکام شوي وو، همدغه حالت د افغانستان هم دی چې په پرله پسې ډول حکومتونه غورځول شوي دي.

افغانستان چې د خپل تاریخ په حساسه پړاو کې واقع دی له بل هر څه نه زیات ددې خبرې ضرورت دی چې د افغانانو د خوښې اسلامي نظام او اسلامي حکومت د قیام او نفاذ له لارې ملاتړ او حمایت یې ترلاسه کړی شي ځکه چې لدی پرته له بل هیڅ لاری ددوی مجموعي ملاتړ د ترلاسه کولو امکان نشته.

د افغانستان لوړ پوړي او ټیټ پوړي چارواکی دی دا واقعیت ومني چې د افغانستان د بقاء سلامتیا، او استقلال راز یواځې او یواځې په دې کې دی چې دلته تش په نامه اسلامي دولت پر ځای داسې یو رښتوني او عملي اسلامي حکومت قائم کړی شي چې اولس ورباندې پخپله خوله اعتراف وکړي چې د یو ښه حکومت او ښه نظام خاوندان دي.

په دې کار سره نه یواځې دا چې څوک د حکومت په خلاف د ودریدو تصور نه کوي بلکې مخالفین هم نشي کولې چې په اولس کې ځای پیدا کړي او په افغانستان کې د امن د ګډوډولو لپاره یې استعمال کړي. کله چې ولس داسې یوې مرحلې ته ورسیږي چې په هیواد کې د مخالفت او یا هم د پردیو په لمسون د جګړو او مخالفتونو ټولې لارې ګودرې بندې شي نو بیا په داسې صورت کې د امریکا او ناټو غړو هیوادو ته هم په افغانستان کې د القاعدې په خلاف د جګړې او مبارزې ټولې بهانې پخپله له منځه ځي او په افغانستان کې د پاتې کیدو جواز ورته نه پاتې کیږي په دې توګه د افغانستان امن او استحکام هم یقیني کیږي او استقلال یې هم، خو دا کار هله یقیني ښه خپلولی شي چې په لومړی ګام کې اولس ته منظم اسلامي حکومت او عملی اسلامي نظام ورکړی شي، اولس په دې ډاډمنه شي چې هیواد کې واقعاً دهغوی د خوښې اسلامي نظام نافذ دي.

پاتې ۳ مخ

د امریکا او پاکستان ستراتیژیکې خبرې اترې!

عبدالفتاح جواد

د پاکستاني چارواکو یو لوړپوړی پلاوی د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي په مشری څو اونی وړاندې واشنګټن ته تللی وو څو له امریکایي چارواکو سره ددواړو هیوادونو ترمینځ ستراتیژیکو خبرو اترو کې برخه واخلي، په دغه پلاوي کې د پاکستان د پوځ مشر جنرال اشفاق کیاني او د استخباراتي isi اداري مشر جنرال شجاع پاشا هم شریک وو، دا چې ددغو خبرو اترو

هیلری کلنتن

اغیز به په راتلونکي کې د پاکستان او امریکا ترمینځ په سیاست او اړیکو باندې څه وي؟ او د افغانستان په حالاتو او دغلته د سولې او یا جګړې په اړه به څه اغیز ولري ؟ دا به راتلونکې ورځې او حالات ثابتوي خو پوښتنه داده چې دپاکستان او امریکا ترمینځ ستراتیژیکې خبرې اترې او یا هم مذاکرات ددوی په اصطلاح له تروریزم سره د پیل کړې جګړې نهه کاله وروسته ولې کیږي؟ پاکستان په دغه کمزوري پوزیشن څه ډول د یوه داسې هیواد سیال او یا هم ستراتیژیک شریک کیدلای شي چې هغه په نړی کې ځان بې ساری ګڼي، جګړه هم خپله اعلانوي او سوله هم !، په نیویارک کې د یوولسم ستمبر د پېښو نه وروسته چې کله امریکا د طالبانو او القاعدې پرضد جګړه اعلان کړه نو امریکایي ولسمشر بوش د تلیفون په کرښه دطالبانو دحکومت ستر ملاتړی هیواد په خپله جبهه کې ودراوه او له مجبورۍ نه یې په یوه داسې جګړه کې ورښکیل کړ چې هیڅ یې هم پکې ونه موندل بلکې ډېر څه یې له لاسه ورکړل.

پاکستان که د طالبانو سره په جګړه کې د امریکایي ډالرو مرسته ترلاسه کړه خو بل پلو ته یې په سیاسي، پوځي، اقتصادي او امنیتي لحاظ داسې زیانونه ولیدل، چې دغه ډالریزه مرسته یې په بدل کې هیڅ هم نده، دبېلګې په توګه:

جنرال اشفاق کیانی

- پاکستان د طالبانو پرضد دامریکا له ملاتړ نه وروسته یوې داسې کورنۍ جګړې ته ننوت چې ددې هیواد ټول ایالتونه یې ناکراره کړل، د پوځ خلک یې هم پکې ووژل شو او ولس یې هم یا د طالب په نوم تلفات ولیدل او یا یې په بمي چاودنو کې ژوند له خطر سره مخ شو.

- پاکستان د کور دننه په سیاسي لحاظ د امریکا پلوه او امریکا ضد ډلو او لوریو ترمینځ د کشمکش سره لاس او ګریوان شو او دغه کشمکش به لا پسې ژورېږي.

- پاکستان ته د امریکا استخباراتي ادارې او خصوصي امنیتي شرکتونه لکه بلاک واټر، په پراخه کچه ننوتل، په لویو ښارونو کې یې ځایونه ونیول او د پاکستاني سیاستوالو او څېړونکو د څېړنې له مخې د خلکو په نیونه او وژنه کې ککړ شول، یوازې تیره میاشت په کراچی ښار کې شپږ ستر دیني عالمان د نامعلومو کسانو لخوا ترور شول.

- پاکستان له اقتصادي پلوه هم ناارامه شو، په سترو ښارونو او تجارتي مرکزونو لکه کراچی، لاهور، راولپنډی، پېښور، اسلام اباد او نورو کې چاودنو او وژنو کورني او بهرني پانګوال اړویستل څو خپلې پانګې او سرمایې له هیواد نه بهر خوندي ځایونو ته ورسوي، چې دغه لامل تولیدات کم او بیکاري زیاته کړه.

-د پاکستان یو بل اقتصادي ډګر چې سیاحت وو هم په ژوره توګه زیانمن شو ځکه چې کورني او بهرني سیلانیان داسې سیمو ته د سیاحت لپاره زړه نه ښه کوي چې هلته ناارامي وي.

پاکستان او د قیادت تشه!

یوې پاکستانی اونیزې (فرایدې اسپیشل) د مارچ د ۲۶ مې په ګڼه کې واشنګټن ته د پاکستاني پلاوي د سفر په اړه تبصره کې په پاکستان کې د قیادت بحران او خلا ته اشاره کړې ده او لیکلي یې دي چې ((ددغو سفرونو او خبرو اترو په اړه سیاسي قیادت بیخي ګوښه ساتل شوی او ټوله قضیه د پوځ او استخباراتو له لوري پرمخ وړل شوې ده، ان تردې چې په اسلام اباد کې هم چې په دې اړه غونډې او ناستې پاستې شوې دي نه پکې ددغه هیواد ولسمشر زرداري پوښتل شوی او نه پکې د صدراعظم یوسف رضا ګیلاني نظر اخیستل شوی دی او د بهرنیو چارو وزیر هم هسې د یوه سمبول او چتر په توګه تللی وو، پاکستانی پلاوي د پوځ د مشر پرویز کیاني په مشری لومړی په فلوریډا کې د امریکا د پوځ مرکزي قوماندانۍ ته ورغی او بیا یې په پنټاګون کې د دفاع وزیر رابرټ ګیتس او جنرال مایک مولن سره لیدل کتل وکړل، لدې نه معلومه شوه چې په پاکستان کې اوس هم سیاست او واک له پوځ او د

شاه محمود قریشی

پردې ترشا قوتونو سره دی او د ولس په رایه ټاکل شوي حکومتونه هیڅ موقف نلري.))

اونیزه لیکي: (دغو پېښو ته په کتو سره دا حقیقت هم را څرګندیږي چې زمونږ د ژوند په هر اړخ باندې امریکا مسلطه ده، د اوبو مسئله او د وسلو په ډګر کې د پرمختګ موضوع هم باید له امریکا سره په ستراتیژیکو خبرو کې مطرح کړو او نظر یې پرې واخلو او د مالیې وزیر خو هسې هم په خپله نشو ټاکلی بلکې دنړیوال بانک، امریکا او نړیوالو مالي ادارو لخوا راته معرفي کیږي، خو بیا هم زمونږ واکمنان دعوا لري چې امریکا را سره د یوه ستراتیژیک شراکت خبره کوي.)

موخه څه ده؟

که څه هم چې پاکستاني پلاوي خو له ځان سره ۵۷ ټکي او موضوعات وړي وو څو له امریکا سره په ستراتیژیکو خبرو اترو کې وورباندې و غږیږي،چې په هغو کې د کشمیر مسئله، د سوله ایزې اتومي انرژۍ خبره، له طالبانو سره د جګړې خبره او داسې نور هم شامل وو مګر په تاریخي لحاظ امریکا د پاکستان په پرتله زیاته توجه هند ته کړې ده هغه چې د اتومي انرژۍ په برخه کې یې د مرستې وعده هم ورسره کړې، داځل هم سیاسي کتونکي پدې اند دي چې په واشنګټن کې ستراتیژیکې خبرې اترې د پاکستان په پرتله په خپله د امریکا اړتیا ده او کیدای شي چې د باکستان پلاوی ورغلی نه بلکې وربلل شوی وي، امریکا چې په نهه کاله کې ونشو کولای افغانستان کرار کړي بلکې برعکس کال تربله جګړه پراخیږي، د امریکایي سرتیرو مرګ ژوبله هم ورسره په زیاتیدو ده نو ځکه خو اړه ده څو له هغه پاکستان سره چې پخوا یې هم د طالبانو ملاتړ کاوه او اوس هم تربل هرچا ورسره ښې اړیکې لري، تفاهم وکړي.

امریکا په پاکستان پړه اچوي چې د طالبانو او القاعده پرخلاف جګړه کې ورسره مخلص ندی بلکې دواړه لوري وهي، که څه هم چې پدې وروستیو کې پاکستان د طالبانو لوړپوړي چارواکي په خپله خاوره کې ونیول خو د افغانستان دولت او ان د ملګرو ملتونو اداره دعوه لري چې هغوی یې پدې ندي نیولي چې ولې له امریکا سره جګړه کوي بلکې تور پرې دادی چې هغوی د کرزي له حکومت سره د خبرو او تفاهم پلوي وو، دا چې پاکستان به په راتلونکي کې بیا هم وکولای شي، دغه راز سیاست و چلوي چې هم له امریکا سره وي او هم د امریکا پر ضد؟ د واشنګټن ستراتیژیکو خبرو کې به په دغه ټکي هم خبرې شوې وي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر خو په هغه خبري غونډه کې چې له امریکایي سیالې هیلري کلنټن سره یې لرله او د دواړو لخوا په یوه ټینګه او ګرمه مصافحه پیل شوه خوښ ښکاریده او دعوه یې لرله چې امریکا ورسره وعده کړې څو تر راروانې جون میاشتې پورې دده هیواد ته دوه ملیارد ډالره مرسته ورکړي او ولس به یې ډېر ژر د هغو ایف ۱۶ الوتکو په اړه زیری هم واوري چې امریکا له ډېر پخوا نه د ورکولو وعده ورسره کړې ده، خو شاه محمود قریشي د هغو وعدو په اړه هیڅ هم ونه ویل چې امریکا ترې نه د طالب ضد جګړې په اړه اخیستې دي، ځکه چې د امریکا مرستې مفتې نه بلکې ډېرې درنې وي.

دسره رود پېښې او ترشا يې پرتې انګېزې

محمد حسن حقيار

دجمعې په ورځ سحر مهال دناټو ځواکونو دخپل هميشني خوی له مخې دننګرهار ولايت دسره رود ولسوالی اړوند دباولی په کلي کې دلوېې لار پرسر پروت ديو عادي او بې ګناه بزګر کورته ننوتل او دسيمې داوسېدونکيو په وينا، ديارلس تنه يې چې نهه تنه پکې ديوه کور غړي وو په پوره قساوت او هاغه وحشت چې يواځې دهمدوی له شان سره مناسبه ده ووژل.

ټول کليوال شاهدان دي چې وژل شوي خلك ناخبره، ناغرضه اوبې ګناه دي، نه له ائتلاف او ناټو سره کومه راشه درشه لري او نه له مخالفينو او نورو ډلو سره.

ناټو ځواکونو دتالاشی پرمهال له دې کورڅخه نه وسلې وېستې دي او نه هم کوم داسې شی چې په کورکې يې ساتل جرم وي.

ددې کور موقعيت هم په داسې ځای کې دی چې له جيو استراتيژيک او سوق الجيشي نظره نه له حکومت او ناټوسره مخالفت ته مناسبت دی او نه له دې ځايه پر حکومت او ناټو کوم بريد کېدلی شي.

داکور دجلال اباد ـ خوګيانو پر لويه لار دسره رود دولسوالی په شاوخوادوه کيلومتری او دجلال اباد په شاوخوا لس کيلومتری کې پروت دی.

هره ورځ دناټو کتارونه او افغان امنيتي ځواکونه ددې کور ترڅنګ څوځوځله تېرېږي خو دننګرهار تېر نهه کلن تاريخ شاهددی چې له دې کورڅخه خو پرېږده چې آن له دې سيمې او کلي څخه هم کله پر دولت او يا ناټو بريد نه دی شوی او نه دلته کومه دناامنی پېښه رامنځته شوې ده.

دالومړی ځل ندی چې بهرنيان بې ګناه وګړي وژني او نه لومړی ځل دی چې دوی خپله اشتباه نه منې بلکې تردې وړاندې يې هم څوځوځله داډول تخريشوونکي بريدونه کړي دي.

که څوک دننګرهار ولايت په سره رود ولسوالی کې ددې وروستی پېښې ځای وګوري هغه چې ناټو پکې دترهګرو دشتون دعوه کوي نو له شک پرته ويلی شي چې دوی په لوی لاس په افغانستان کې ناامنی ته لمن وهي. ځکه چې دا سيمه دسره رود دولسوالی دمرکزسلطانپور په دوه کيلومتری او دجلال اباد ښار په شاوخوا لس کيلومتری کې دلوېې لارې پرسړک پرته ده او کوم کورچې تربريد لاندې راغلی دعمومي سړک پر سر ديوه غريب بزګر کور دی.

په سره رود ولسوالی کې په تېرو ورځو کې دادوهمه پېښه ده دا رسوالي جدن اباد ښار ته نږدې پرته هغه سيمه ده چې ټول چارواکي او آن بهرني ځواکونه ښه خبر دي چې دلته هېڅ ډول بريد، نه تروريستي اونه بل ډول ترسره شوی دی او نه تراوسه پد دې نهو کلونو کې پر بهرنيو ځواکونو کومه حمله شوېده.

دننګرهار اکثره دولتي چارواکي اورئيسان هم دسره رود ولسوالی اوسېدونکي دي.

داچې بيا هم بهرني ځواکونه دلته حملې کوي او بې ګناه ناخبره ولس وژني داپخپله دخلکو د راپارولو، ډاډمنو او له امنيت څخه ډکو سيمو ته دجګړو دغځولواو دجګړې دډګر د تودولو بله معنی نلري.

که چېرې پدې سيمه کې لګه څنګه چې ناټواو دننګرهار چارواکي وايي دمخالفينو اډې وي او يا مخالفين تر دې ځايه راورسېږي نو بيا خو ننګرهاردمخالفينو لاس ته لوېدلی بلل کېږي.

بهرني ځواکونه په داسې حال کې پر دې کورنی بريد کوي چې دوی دخپل څو مياشتيني زيار محصول اخلي او خپل غنم تهريشر کوي.

دننګرهار ولايتي اداره چې ناټو يې هغه دعوامو خبره په يوخروار ليتې کې هم نه حسابوي او په پياوړي ګومان دپېښې له ترسره کېدلو وروسته کليوالو خبره کړې دخپلې ابرواو اعتبار دساتنې ،دناټو لپاره دسياسي تملق په خاطراوچې کله دپېښې په غبرګون خونړي ولسي لاريونونه وشول دناټو دفشار له کبله ډېر وروسته زړه نازړه اعلان وکړ چې ناټو له دې بريدونووړاندې دوی خبر کړي وو .

ددې تحميلي اعتراف معناداده چې دننګرهار چارواکي هم پدې سترجنايت کې شريک دي.

له پېښې وروسته دسيمې په سلګونو تنوپارېدلوخلکو په داسې حال کې چې له زړونو يې وينې څڅېدلې دناټو ددې فرعوني حرکت پر خلاف لاريون وکړ او ددې پوځونولخوا ددې بې ګناه وګړيو دوژنې دپوښتنې غوښتنه يې کوله.

لاريون کوونکيو غوښتل چې شهيدان دسره رود ولسوالی او يا جلال اباد ته ولېږدوي او درسنيو له لارې خپل مظلوميت نړيوالو ته وښيي چې داځل دناټو په لاس دروژل شويواو دناټو په نمک دسترو شويوافغان پوليسو له قهر سره مخ شول او ددوی په لاس يې دوه تنه ووژل شول او يو تن يې ټپي شو.

داوژنې په داسې وخت کې ترسره کېږي چې له پېښې يوه ورځ وړاندې دواشنګټن په ناسته کې دافغانستان اوامريکا دمتحده ايالتونو ددواړو مشرانو تاکيدپر دې خبر وچې بايد دملکي خلکو له وژنې څخه په کلکه ډډه وشي.

دخبروپه بهير کې دامريکې دمتحدوايالتونو جمهوررئيس بارک اوباما دټولو ملکي افغانانو دوژنې پړه پرخپله غاړه واخيسته او ويل کېږي چې دستراتيژيکو مرستو دطرحې يومهم بند په نظامي عملياتو کې دملکي تلفاتو مخنيوي ته ځانګړی شوی دی اودامريکا جمهوررئيس اوبامالـه خپل مېلمه حامدکرزي سره په خبروکې په زغرده وويل چې په افغانستان کې امريکايي ځواکونه په کلکه هڅه کوي چې دملکي خلکو دتلفاتو مخه ونيسي.

دملکي تلفاتوموضوع کله ناکله دامريکا پر مشری دبهرنيوپوځونو اودافغان دحکومت ترمنځ ظاهراً دجنجالونو او زرګري جنګ باعث هم ګرځي. خو هرځل يا پرملکي خلکو بريدونه ، ياپه دې پېښوکې دتلفاتو شمېر دامريکا اوناټو پوځونولـه خوا ردېږي اويا پر دې اصرارکوي چې دوی له ترهګرو سره مخ شوي اوترهګر يې له منځه وړي دي.

دسره رود ولسوالی پدې پېښه کې هم دوی په ډېرې سپين سترګی دعوه کوي چې اته تنه ترهګر يې وژلي دي او دوه تنه يې ژوندي نيولي دي.

کله چې دوی دحکومت په غېږ کې دپرتې او په ختيځ زون کې دناټو دمرکزي قومانداني ترزني لاندې پرتې ولسوالی (سره رود) ددې پېښې شهيدان ترهګر او تروررستان بولي نو دکندهار دډنډ دولسوالی ، دزابل ددای چوپان ، دشينډنډ دزېر کوه ، داروزګان دخاص اروزګان او دهلمند دګرمسير خو دې الله مل شي، ښه ده چې هلته هر شهيد شوی افغان پخپله اسامه نه بولي.

داچې ناټو داخلک ترهګر بولي دا ددې څرګندوی دی چې دوی هرافغان ترهګر او دخان مخالف بولي.

داځل هم ايساف په خپله خپره کړې اعلاميه کې ويلي دي چې کله دايساف اوافغان کډوپوځونه دالله نظر په نامه کلي کې دترهګرو ! ! دشتون په شک هغې خواته روان ونو دې کلي ته نږدې پر دوی ډزې وشوې چې په ځواب کې يې ددوی ځواکونوهم پر هغوی ډزې وکړې.

دناټو ځواکونوددې ړندوډزو په ترځ کې ترديارلس کسان وژل شوي چې اکثره يې ځوانان دي اوديوپنځلس کلن تنکي ځوان مړی چې ستونی يې دناټو ځواکونو په ډزو بيخي سوری شوی و هم ليدل کېده. .

په کابل کې دايساف ځواکونه خندوونکې ادعاکوي پدې ډول چې ددوی په وينا ، وژل شوي کسان مخالفين وو چې غوښتل يې دشنبې په ورځ دجلال آباد پرښاروسله وال بريدوکړي.

که څه هم ناټو چارواکي په دې پېښه کې دملکي وګړو مړګ ژوبله نه مني خودوالي ويااندعبدالزي د دې عملياتو په مهال چې دعوه کوي له دوی سره په همغږی ترسره شوي دلسو ولسي وګړيو وژل کېدل تائيد کړل.

دوالي نطاق داهم ويلي دي چې منطوق يې دپېښې دڅېړلو لپاره سيمې ته يوپلاوی هم لېږلی دی خو دادی دهردولتي پلاوي په څېر تراوسه ددې پلاوي دکار پايله هم چا ونه ليده.

حامدکرزي هم چې دپېښې پر مهال د امريکا په ترټولو لوړبيه مېلمستون کې ددې هېواد په تاريخ کې ددې وژونکيو ترټولو نازولی مېلمه و دتل په څېر پردې دردوونکي پېښې د خواشينی په ښوولواو دپېښې په غندلو خپل مسؤوليت ترسره شوی وباله.

دغه راز دغه پېښې دولسي جرګې غړي هم راوپارول ددې جرګې ځينو غړيو خو خپلو مېلمنو (ناټوځواکونو) ته له همدردی ډکه مشوره ورکړه چې که دا ملکي وژنې رواني وي نو کېدای شي چې دنړيوالو ځواکونوپر ضد پراخ ولسي پاڅون وشي چې بيابه يې کنترول ډېر سخت او شوني ده چې حالات دمخالفينو په ګټه تمام شي.

داچې بهرني ځواکونه اوددوی مشران په افغانستان کې دملکي تلفاتو په اړه دخلکوغبرګونونو ته اهميت نه ورکوي لکه چې تراوسه يې بې اهميته ګڼلی دي، له شک پرته دغه ډول چلند دوی ته ډېروخيم عواقب ولري،ځکه چې دولس اوازته اهميت نه ورکول ددې لامل ګرځي چې دامريکا اوناټو پر وړاندې په خلکوکې دمخالفت موجوده روحيه لاغښتلې شي ددې کار پايله ددوی ماتې ده ، له ولس سره ددوی د دومره متکبرانه او نمرودي چلند ددې څرګندوی دی چې نور نو دا ځواکونه هم د انګرېز ،چنګېز او روس برخليک ته ورنږدې شوي.

د اولس له ملاتړ پرته مستحکم ...

په ټولو ځانګو او شعبو کې اسلامي کلتور وده مومي او له اخلاقه دېری وتی کلتور مخه په کلکه نيول شوې ده، که الله مکړه حالات د پخوا په څېر روان وي او په راډيو تلويزون او نورو رسنيو کې د فحاشی فساد او رقاصی لړی جاري وي، په ټولو ادارو کې بې عدالتي او بډی اخستنې فساد پخپل اصل حالت کې پاتې وي نو د نړۍ هيڅ يو طاقت نشي کولې چې په آفغانستان کې امن راولي ځکه چې په هر هيواد کې د امن او استحکام د تأمين لپاره د اولس خدمتګار چارواکي او له فساد نه پاکي اداري ضروري دي.

دويم غټ او مهم کار چې په افغانستان کې د امنيت د راوستو لپاره خورا ضروري دی هغه دا دی چې افغان ولس ته امريکا او ناټو غړی هيوادونه له افغانستان نه د وتلو حتمي مهال ويش ورکړي، له مخالفينو سره په اړونده مسايلو کې مفاهمت وکړي د يو بل انديښنی ليرې او د اعتماد فضا رامنځ ته کړي.

د افغانستان ټول وګړي همدا يوه خبره کوي چې تر څو پوری بهرني ځواکونه له افغانستانه د وتلو حتمي مهال ويش اعلان نکړي او ددې ترڅنګ په افغانستان کې سوچه اسلامي حکومت او اسلامي کلتور د نفاذ لپاره عملي ګامونه اوچت نشي، په ادارو کې د فساد او بډی اخستنو جرړی ونه ويستل شي په افغانستان کې د امن خوب ليدل له ليونتوب نه پرته بل څه نشي کيدلې. مليارډو ډالر او لکونو انسانان خو به ضايع شي مګر په افغانستان کې به د امن څرک تر ستر ګو نشي.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخواني نوم: هيرالال – اسلامي نوم: عبدالله
پخواني مذهب: هندو – دهيواد نوم: هندوستان

د هندوستان دپخواني صدراعظم مهماتما ګاندهي زوی څنګه مسلمان شو؟

هيرالال د هندوستان د مشهور قومی مشر داس کرم چندر ګاندهی (چې د مهماتما ګاندهي په نوم مشهور و) په کور کې سترګی غړولې.

په هندوستان کې يو خوا انګريزانو خلك د غلامې په زنځير تړلې وو او له بل لورې د هندوانو برهمنی ډلې هم خپل ځانونه تر ټولو لوړ ګڼل.

ددغی ډلې هر يو نه يواځې دا چې له بل هر هندو ځان اوچت ګاڼه بلکې هغوی ته يې د انسان په سترګه هم نه کتل. هيرالال هم د برهمن له قوم څخه و، هغه پخپلو سترګو وليدل چې برهمن قوم د نورو هندوانو هر اړخيز استحصال کوي او هغوی ته د انسان په توګه نه ګوري. د هندوانو مذهبي عقيده داده چې د ټولو کائناتو نظام د دريو خدايانو يعنې برهما، وشنو او شيوا تر ځارنی لاندی چلېږي. په مندرونو کې هم د همدغو دريو خدايانو دری مخ لرونکی مجسمی ايښودل شوي دي.

د هندوانو په عقيده برهما هغه خدای دی چې ټول کائنات يې پيدا کړی، او د ټولو مخلوقاتو د خوراک څښاک د برابرولو ځواک لری ځانله ناست دی، او هيڅ انسان نشي کولې چې دهغه قربت او ملګرتيا ترلاسه کړي.

وشنو داسی خدای دی چې انسان له مصيبتونو او پريشانيو ژغوري، په مشکلاتو کې ورسره مرسته کوی، لنډ يې دا چې د ټولو کائناتو، پرمختګ، وده، خوشالي او بری دهغه په واک کې دي.

شيوا داسی خدای دی چې توپانونه، زلزلې، هلاکت او تباهي راولي.

هيرالال خپل مذهب او خپله عقيده په پوره غور سره ولوسته، د هندوانو مذهبی کتابونه لکه ويد، رامائن، يګ ويد او ګيتا يې ټکي په ټکي ولوسته.

کله چې هيرالال د قانون لوستنې وروسته د وکالت ميدان ته ودانګل نو د هندوستان د خراب حالت نه ښه خبر شو، هغه پخپلو سترګو وليدل چې له برهمن قوم سره تعلق لرونکی هندوان د نورو قبيلو هندوانو ته د انسان په سترګه نه ګوري او دهغوی هر اړخيز استحصال کوي، برهمنيانو دا عقيده وه چې ټيټ نسل هندوان دهغوی د خدمت لپاره پيدا شوي دي، او لدينه پرته هغوی ته په هيڅ يو کار کې اجر او ثواب نشته دهغوی وژل او آزارول ورته عادی کار ښکارېده.

هيرالال چې په هندوستان کې د برهمنانو دا غلط تصور او ظالمانه کړنی وليدلې نو انديښمن شو او د يو داسی دين په لټه کې شو چې په هغه کې عدل او انصاف وي او ټول انسانان يو حيثيت ولري، هغه د اسلام د سپيځلي دين ته متوجه شو او دهغه مطالعه يې پيل کړه، په هندوستان کې ميشت د مسلمانانو ژوند يې هم تر غور لاندې ونيوه، هغه د مسلمانانو له عملی ژوند او د اسلام له مطالعی وروسته دې پايلې ته ورسيد چې په اسلام کې ټول انسانان که هغه غريب دی او که مالدار، تور دی او که سپين، ټول يو برابر دي. هغه پخپلو کتابونو کې دا وليدل چې د هندوانو په کتابونو کې هم ددې خبری يادونه شوی چې محمد صلی الله عليه وسلم به د آخری زمانې پيغمبر په توګه راځي، لکه چې د سام ويد د دويمی برخې په شپږمه او اتمه جمله کې راغلی دي چې محمد به له خپل پالونکی ذات نه شريعت ترلاسه کوي چې له حکمت او پوهی نه ډک دی او له دغه شريعت نه به د لمر د رڼا په څېر رڼا ترلاسه کيږي.

همدغه راز د هندوانو يو بل کتاب هوچپاپران کې راغلی دي چې د سند پاچا بهوج په خوب کې يو سړی وليد، هغه ورته وويل چې ته به يو داسی شخص دين منې چې هغه په صحرا کې پيدا کيږي هغه به پيدائيشي سنت شوې وي، دهغه خبرې د اوريدو وړ دي، هغه الله منتخب کړيدی، هغه پاکی غوښې خوري، دهغه په لاس به ډېری معجزی ښکاره کيږي، هغه به د دښمنانو له نقصان نه په امن وی يعنی دښمن به هغه نشي وژلې، دهغه نوم محمد وی، (يعنی ډېر زيات حمد کوونکی)

هيرالال چې دا حقيقت وموند نو د اسلام د منلو فيصله يې وکړه او د لا اله الا الله په ويلو سره د اسلام په سپيځلی دين کې داخل شو، په دې وخت دهغه عمر پنځوس کاله و. هغه خپل اسلام په ټول هندوستان کې ښکاره کړه، هغه د هندوستان په يو جامع مسجد کې د منبر په سر تقرير وکړ او هلته ناستو خلکو ته يې وويل: تاسو ته ښه معلومه ده چې زه د يو لوی هندو ليډر زوی يم، زه په يو الله ايمان لرم او دهغه رسول محمد صلی الله عليه وسلم آخري برحق پيغمبر ګڼم. قرآن کريم د الله جل جلاله کتاب او ټول احکام يې صحيح او حق دی. د قيامت په ورځ په حساب و کتاب دوزخ او جنت باندې پخه عقيده لرم، زه لدی وروسته خپل ټول ژوند د قرآنی دعوت د خورولو لپاره ګووم، د اسلام ددفاع لپاره به خپله سينه ډال کوم، دا دين د عدل، انصاف، امانت، مساوات او رحمت دين دی کله چې هغه له منبر نه کوز شو نو مسلمانانو له ډېری مينی نه هغه پخپلو اوږو اوچت کړ او ټول بازار کې يې وګرځاو. کله چې دهغه پلار مهماتما ګاندهی ته د خپل زوی د مسلمانيدو خبر ورسيد نو بيهوشي ورباندی راغله او له ډېری پريشانی نه يې دوه ورځې ډوډی ونه خوړه. هندوانو هيرالال ته د وژلو او تری تم کولو ګواښونه ورکړل مګر دهغه پښې ونه لړځيدلې او پر اسلام کلک ودريد.

بيا څه وخت وروسته مسلمانانو عبدالله هيرالال ته بلنه ورکړه چې په سورت نومي ښار کې د مسلمانانو يوی لوی غونډی ته خطاب وکړي، هغه په څرګندو ټکو کې وويل که څه هم هندوانو ماته ډېر تکليفونه او اذيتونه ورسول مګر زه پخپل دين کلک ودريدلم او دهغوی په وړاندی می خپله سينه ډال کړه.

هغه وويل د اسلام په قبلولو ډېر خوشال او مطمئن يم، باطل نه د شاه له لوری حمله کولی شي او نه هم مخامخ، هر څوک چې د اسلام په وسله سنبال وي هغه ته هيڅوک ماته نشي ورکولې. زموږ ټول ژوند به د محمد صلی الله عليه وسلم د پاک سيرت په رڼا کې تيرېږي.

هغه هندوانو ته وويل: ستاسو ګټه په دی کی ده چې د ضد او تعصب لاره پرېږدئ او د اسلام په حقانيت باندې غور وکړئ، که تاسی اسلام قبول هم نکړئ بيا هم ستاسی په زړونو کې به د اسلام حقانيت ځای پيدا کوي او تاسی به له مسلمانانو او اسلام سره له دښمنی نه منع کوي.

شهادت اوونيزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه

د امتياز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدير: عبدالله کامه وال

مرستيال: عبدالخليل (محمد خليل)

اړيکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

له حامد کرزي سره د امريکايي چارواکو چلند څنګه و؟

سره له دې چې په وروستيو څو مياشتو کې له سپينې ماڼې سره د افغان ولسمشر حامد کرزي اړيکې ډېرې کړکېچنې وې، خو دا ځل امريکا ته د سفر پرمهال امريکايي چارواکو د ده شانداره هرکلی وکړ. د امريکايي رسنيو د راپور له مخې ولسمشر اوباما مخکې د سپينې ماڼې چارواکو ته په دې اړه سپارښتنه کړې وه.

د سياسي چارو کارپوهان چې فرانسپرس خبري آژانس د هغو له قوله په دې اړه يو تحليلي مطلب خپور کړی په دې نظر دي چې امريکايي چارواکو کلتوري حساسيتونو او نزاکتونو ته په پام سره پټيلي ده چې له افغان حکومت سره په ښکاره ښه چلند وکړي، خو په خصوصي غونډو کې د خپلو غوښتنو د عملي کولو لپاره فشار پرې راوړي.

د امريکا د ولسمشر په توګه په سپينه ماڼۍ کې د کار له پيل وروسته په افغانستان او پاکستان کې له تروريزم سره مبارزه د بارک اوباما د کاري لومړيتوبونو په سر کې راغله.

پردې سربېره اوباما هڅه وکړه هغو تودو اړيکو ته چې د امريکا پخواني ولسمشر جورج ډبليوبوش له افغان ولسمشر سره لرلې کم اهميت ورکړي.

فرانسپرس خبري آژانس وړاندې ليکي، د اوباما د ادارې چارواکو په دې برخه کې چې آيا د پاکستان په حکومت کې دننه ځيني عناصر له افراطي وسله والو سره اړيکې لري کنه، خپل نظر په ښکاره څرګند کړ. پر دې سربېره د اوباما ادارې پر افغان ولسمشر حامد کرزي د اداري فساد له وجې جدي فشار راوړ خو يو کال وروسته څرګنده شوه چې دې ډول چلند معکوسه نتيجه ورکړې ده.

د تېرې چارشنبې په ورځ سپينې ماڼې د ولسمشر حامد کرزي هرکلي په ډېر پرتم او په مينه ناکو خبرو وکړ. ولسمشر کرزي ته تود هرکلي يوازې څو اونۍ وروسته له هغه کېږي چې امريکايي چارواکو په يو ډول سره ګواښ کړی و چې ښايي د ولسمشر کرزي سفر، د امريکا پرضد د ده د څرګندونو له وجې فسخ شي. امريکا ته د سفر په ترڅ کې ولسمشر اوباما، د ده مرستيال جوبايډن او د بهرنيو چارو وزيرې هيليري کلېنټن ښاغلي کرزي ته مېلمستياوې وکړې.

د اتلانتيک شورا په تحقيقاتي مرکز کې د جنوبي آسيا د څانګې مشر شجاع نواز وايي، د اوباما اداره په دې پوهېدلې ده چې له افغانستان سره بايد د هغو يووالي راولي او دواړه هېوادونه د شريکانو په توګه کار وکړي. نواز وايي، اوس مهال له همکارۍ پرته بله لاره نشته او بايد له دې همکارۍ څخه حداکثر ګټه واخيستل شي.

همدا موضوع د پاکستان په برخه کې هم صدق کوي. د روان کال په مارچ مياشت کې د اوباما ادارې د پاکستان ولسمشر او نور جګپوړي چارواکي د ستراتيژيکو خبرواترو لپاره بللي وو. د دې کتنې عمده هدف د پاکستان د اندېښنو اورېدل و، هغه هېواد چې امريکايي ضد احساسات پکې ډېر پراخ دي.

واشنګټن ته د پاکستاني چارواکو د سفر په ورځ حتی په لندن کې د امريکا سفير د منچستر هوايي ډګر ته تللی و، څو دا خبره يقيني کړي چې له هغه ځايه امريکا ته د تلو پرمهال د امنيتي تلاشۍ پرمهال يې څوک ونه څوروي.

پخوا به د اوباما د ادارې چارواکو پخوانی ولسمشر جورج ډبليوبوش له افغان ولسمشر حامد کرزي او د پاکستان له پخواني ولسمشر جنرال پرويزمشرف سره د ښو اړيکو د لرلو له وجې ملامتوه.

همداراز د اوباما د ادارې ځينو چارواکو په تېره په کابل کې د امريکا سفير کارل آيکنبېري او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي مرستيال پيټر ګالبری ښاغلی کرزی د امريکا يو بې اعتباره شريک وباله او په دې نظر و چې دی يوازې غواړي د امريکا په مرسته خپل قدرت وساتي.

د فرانسپرس په وينا د اوباما ادارې په پيل کې له ولسمشر کرزي سره هسې چې پخواني ولسمشر جورج بوش به کول، نه ټلفوني کنفرانسونه لرل او نه يې کله مابنامۍ ورسره خوړله. حتی ويل کېږي چې د اوباما مرستيال جوبايډن يوځل د اداري فساد په اړه د خبرو پرمهال د کرزي د ځواب له اورېدو وروسته له مابنامنۍ مېلمستيا څخه ووت.

په تېره مارچ مياشت کې ښاغلي اوباما کابل ته د خپل سفر پرمهال په مابنامنۍ مېلمستيا کې پر افغان ولسمشر بياهم فشار راووست.

فرانسپرس زياتوي، د کرزي په اړه اندېښنو ته له پام پرته امريکايي چارواکو سيمه ايز حساسيتونه او د افغانانو د مېلمه پالنې دود په پام کې ونه نيول او د ولسمشر حامد کرزي ادارې ته يې په يوه ډول سره په عام محضر کې سپکاوی وکړ.

اژانس وړاندې ليکي، د امريکا نوی چلند ښايي پردې ښسټ ولاړ وي چې د خلکو په حضور کې د مشرانو ستاينه وکړي خو د تړلو دروازو ترشا ورته جدي پيغامونه ورکړي.

د شجاع نواز په وينا ولسمشر حامد کرزی حتی که د دې انتقادونو له وجې په غوسه شوی هم وي، خو واشنګټن ته د سفر په ترڅ کې يې په سپينه ماڼۍ کې په وينا کې ژمنه وکړه چې له فساد سره به مبارزه کوي.

د جنوبي آسيا د چارو کارپوهه او د بوش د ادارې کارکوونکې ليزا کوتيس وايي، د کلتوري حساسيتونو له وجې، د دې سيمې پر مشرانو په عام محضر کې انتقاد کول وضعيت نورهم خرابوي، ځکه دوی نشي کولای خپله واکمني په خپل قلمرو کې ټينګه کړي، په تېره هغه وخت چې دوی له سياسي پلوه کمزوري وي.

اظهارات کريم حليمی در مورد ...

در منطقه مورد انتقاد قرار داد و گفت:

"عمل کرد پوليس و اردو به هيچ وجه قابل قبول نيست، پوليس و اردو بايد سريع در هم چو وقايع خود را برسانند، از اين جهت است که من تاکيد دارم تا ضعف ها شناسايي شود و معلوم گردد که ضعف در کدام قسمت وجود دارد. در جای که ضعف داريم بايد ضعف خود را بپذيريم و از مردم عذر خواهی بکنيم".

در گذشته نيز درگيری های مسلحانه ميان کوچی ها و هزاره ها در بهسود و برخی نقاط ديگر در ولايات مرکزی افغانستان به وقوع پيوسته بود.

کمسيونی به رهبری وحيد الله سباوون يکی ازمشاورين رييس جمهور کرزی در اين زمينه کار کرده بود تا اين اختلافات رفع شود و هر دو طرف بتوانند به طور صلح آميز از علفچر های وسيع اين مناطق استفاده کنند، اما درگيری های تازه نشان می دهد که مشکل حل نشده و اظهارات معاون دوم رييس جمهور کرزی می گويد که ريشه اين تحرکات در جای ديگر است.

کمسيون انتخابات حق حذف نام ...

خود هستيم و بايد نام های ما شامل فهرست ابتدايی شود".

آقای ثابت هم چنان گفت که نام های آنان بدون دليل موجه از فهرست ابتدايی کانديدان انتخابات ولسی جرگه حذف شده است.

وی افزود که اگر به اين درخواست آنان تا ساعت پنج روز سه شنبه اين هفته پاسخ مثبت داده نشود، آنان در اين مورد بعداً تصميم خواهند گرفت.

در انتخابات ولسی جرگه ۲۷ سنبله امسال حدود ۲۶۸۰تن خودشان را کانديد کرده بودند.

اما کمسيون مستقل انتخابات افغانستان به دليل آن چه موجوديت يک رشته مشکلات در کارت های رای دهی حمايوی ۲۲۶تن از اين نامزدان خوانده، نام های آنان را شامل فهرست ابتدايی نساخت.

در حاليکه به گفته تعدادی از کانديدان حذف شده از فهرست ابتدايی کانديدان انتخابات ولسی جرگه، شامل نساختن نام های آنان در اين فهرست از صلاحيت های کمسيون مستقل انتخابات نيست، اما ذکريا بارکزی معاون دارالانشای کمسيون مستقل انتخابات اين انتقادات را بی جا می خواند.

وی در مورد گفت: "ما صلاحيت قانونی داريم تا لست تاييد کننده های يک کانديد را که رای دهنده گان می باشند، مورد بررسی قرار دهيم تا دريابيم که معلومات ارايه شده درست است و يا خير. در مورد اوصاف کانديدان که در ماده ۸۳ آمده است، از جملهء وظايف کمسيون شکايات انتخاباتی است که از واجد شرايط بودن آنها تصديق می کند".

فهرست نهايی کانديدان انتخابات ولسی جرگه بعد از بررسی کمسيون شکايت های انتخاباتی اعلان خواهد شد.

قرار است از ميان ۲۶۷۳ نامزد که نام های شان شامل فهرست ابتدايی کانديدان انتخابات ولسی جرگه امسال شده است، صرف ۲۴۹تن آنان به ولسی جرگه افغانستان راه يابند.

قرار است انتخابات ولسی جرگه به تاريخ ۲۷ سنبله امسال راه اندازی شود.

نا امنيو په مارجې کې د بيارغونې ...

وسلوالو د دې کمپنۍ ځينې قرارداديان وتښتول او ځينې يې ووژل، دغې کمپنۍ چې د امريکايانو له خوا يې ۱۶مليونه ډالره بودجه اخيستې وه، غوښتل له مارجې څخه د لښکرګاه تر پې آر تي پورې سړک وغزوي. په سيمه کې طالبانو له ګڼو حکومت پلوه قومي مشرانو څخه سرونه هم پرې کړل.

والسټريټ ژورنال خپروني په دې اړه ليکلي، د همدغو ناکراريو له کبله امريکا په سيمه کې زياتې هڅې نه شي کولای، د امريکا پرمختيايي اداره د اوبو لګولو لپاره زيات پمپونه رانيولي چې د مارجې پر بزګرو يې ووېشي، خو سيمه ييزو خلکو دغه واټرپمپونه وانه خيستل، ځکه څو بزګرانو چې مخکې دغه ماشينونه اخيستي او پر خپلو کروندو فعاله کړي وو، د طالبانو له خوا ووژل شول.

د هلمند د والي وياند داود احمدي وايي د مارجې لپاره منل شوې پروژې چې ويل کېږي د ناامنيو له کبله ځنډول شوي، اوس هم پر خپل حال دي او ډېر ژر به عملي شي:

"د مارجې پوځي عمليات د امريکايي او ناټو ځواکونو د عمومي قوماندان جنرال سټنلي مک کرسټل د پوځي ستراتيژۍ عمده برخه ګڼل کېده، چې تر پوځي عملياتو وروسته له خلکو سره مرسته وشي، په دې معنی چې د کار زمينه ورته برابره شي او په سيمه کې اقتصادي پروژې عملي شي."

امريکايي او ملکي چارواکي وايي ټاکل شوې ده ورته پلان په کندهار کې عملي شي، چې د طالبانو د ظهور سيمه ګڼل کېږي.

د مارجې ستونزو وښوده چې امريکايي چارواکي به په کندهار کې هم له سختيو ډکه لار په مخکې ولري.

د مارجې د پوځي عملياتو په دويمه اوونۍ افغان او امريکايي چارواکو وويل چې دغه ولسوالي يې په خپله ولکه کې راوستلې ده. دوی پر مارجې ملي بيرغ راځوړند کړ او نوی ولسوال يې ورته وټاکه.

که څه هم امريکايي چارواکي وايي په مارجې کې تر جګړې وروسته د پرمختګ زياتې نښې وينې، چې په لسګونو ښوونځي پرانيستل شوي، د سيمې تر ډېرش فيصدو زيات بېځايه شوي خلک بېرته خپلو سيمو ته ورغلي، تر پنځه سوو زيات دکانونه او تجارتي مرکزونه دلته پرانيستل شوي، خو دا هغه څه دي چې د مارجې ځايي اوسېدونکي يې نه مني.

د څنګلورې ولسوالی نادعلي، يو قومي مشر عبدالاحد هلمندوال وايي که څه هم په مارجې کې د وخت په تېرېدو سره د پرمختګ نښې ليدل کېږي، خو بيا هم دلته ستونزې شته:

"د امريکايي پوځيانو يوه وياند ډګروال واينې شانکس وويل، سره له دې چې په مارجې کې د وسلوالو طالبانو فعاليتونه شته، دوی خپل تاکتيکونه بدل کړي او هڅه کوي د سيمې کنټرول واخلي."

خو هغه امريکايي پوځيان چې د امريکا په مالي مرسته د مارجې د ځينو پروژو مسووليت لري، دا مني، چې د کارموندنې پروګرامونه د طالبانو د تاوتريخوالي له کبله ورو روان دي.

ولسي جرګه د کوچيانو او هزارو ...

تلفاتو او زيانونو په اړه څه ونه ويل. په عين حال کې د ولسي جرګې يو شمېرغړي وايي، چې تېره شپه يو ځل بيا په دای مرداد ولسوالی کې د ځايي اوسېدونکو هزارو او کوچيانو تر منځ نښته شوې چې دواړو خواوو ته مرګ ژوبله هم اوښتې ده.

بل خوا د ولسي جرګې ځينې غړي وايي، چې د هزاره ګانو او کوچيانو يو شمېر استازو په تېرو کلونو کې د هزارو او کوچيانو ترمنځ د دې ستونزې د حل لپاره له حکومت نه مېليونونه ډالره ترلاسه کړي او دوی هڅه کوي چې يوځل بيا له همدې لارې پيسې او سياسي ګټې ترلاسه کړي.

د ولسي جرګې غړې شکريه بارکزی هم ورته نظر لري:

"هر کال د کوچيانو او هزارګانو مشران د دې ستونزې د حل په نوم څو مېليونه ډالره تر لاسه کوي، دا پيسې ولې اخلي، له دې لارې هڅه کوي چې خپل مشخص سياستونه پرمخ بوځي او خلک بدبخته کړي.

په دغو نښتو کې د کوچيانو او هزارګانو د مشرانو زمن نه مرې بلکې د افغانستان فقير او بې وزله خلک مړه کېږي"

دا لومړی ځل نه دی، چې په ميدان وردګو ولايت کې د کوچيانو او هزارګانو تر منځ د څرخايونو او د ځمکو د ملکيت پرسرنښتې کېږي بلکې تردې وړاندې هم څوځلې په ورته توګه د دې ولايت په بهسودو او دای مرداد ولسواليو او دغه راز د افغانستان په ځينو نورو سيمو کې هم د ځايي اوسېدونکو او کوچيانو ترمنځ نښتې شوې چې کله ناکله يې مرګ ژوبله هم رامنځ ته کړې ده.

د قومونو او قبايلو په چارو کې د ولسمشر د سلاکار وحيدالله سباوون په مشرۍ د دې ستونزې د حل لپاره يو کميسيون هم کارکوي خو داسې ښکاري چې د دې کميسيون د تېر کال پرېکړې کوچيانواوهزارګانونه دي منلي او يو ځل بيا دواړو خواوو د خپلو ګټو لپاره داده خونړۍ نښته پيل کړه.

لوړو زده کړو وزارت ۶ خصوصي ...

خصوصي تحصيلي موسسې د قوانينو او لوايحو په جوړولو کې شريکې کړو.

په دې برخو کې به د هغوی نظريات هم واخلو ځکه چې دا قوانين په ټولو پورې اړه لري هم په دولتي او هم په خصوصي.

خصوصي پوهنتونونو هم بايد د هېواد اړتياوې په پام کې ونيسي او کيفيت يې ښه کړي په ټولو برخو کې بايد فعاليت وکړي نه دا چې يواځې اقتصاد او حقوقو په برخه کې کار وکړي.

د لوړو زده کړو وزارت د معلوماتو له مخې تر دې دمه ۳۰ خصوصي پوهنتونونه فعاليت کوي چې له دې ډلې يواځې اته يې په ولايتونو او پاتې نور يې په کابل کې فعال دي چې ۲۰زره محصلين په کې زده کړې کوي.

خو د خصوصي پوهنتونونو موسسين وايي، چې دوي د روانو امنيتي ستونزو له امله نه شي کولای چې خپل فعاليتونه ولايتونو ته وغځوي.

خو بل پلو د لوړو زده کړو خصوصي پوهنتونو چارواکي وايي، چې دوي هڅه کوي چې د دوي تحصيلي سيستم د لوړو زده کړو وزارت له خوا د ټاکل شوي معيار سره برابر کړي.

په بلخ ولايت کې د تاج په نوم د خصوصي پوهنتون مشرې ماريا وويل، چې دوي هڅه کوي محصلينو ته په لوړ معيار برابر زده کړې ور کړي:

"ډېری عام خلک لا هم په دې نه دي پوه، چې ايا يو خصوصي پوهنتون د دولتي پوهنتون ځای نيولای شي.؟

خصوصي پوهنتونونه هم کولای شي د دولتي پوهنتونو په څېر په ټولو برخو کې عملي خدمتونه وړاندې کړي.

موږ خلکو ته دا ډاډ ورکوو، چې خصوصي پوهنتونونه هم د دولتي پوهنتونونو په څېر خوانانو ته تحصلي اسانتياوې برابر کړي او هڅه به مو دا وي د خوانان شعور په ټولنيزه او سياسي برخه کې پياوړي کړو."

د دې ترڅنګ چې د لوړو زده کړو وزارت په خصوصي پوهنتونو کې د زده کړې پر کيفيت ټينګار کوي، بل لور ته په دې پوهنتونونو کې يو شمېر محصلين له لوړ فيس څخه شکايت کوي.

دوي دا هم وايي، چې په زياتره خصوصي پوهنتونو کې استادان مسلکي زده کړې نه لري يواځې په انګليسي ژبه پوهېږي، خو د چارو يو شمېر کار پوهان وايي، چې په خصوصي پوهنتونو کې د دولتي پوهنتونو په پرتله د زده کړې کيفيت ښه دی.

د دارالامان چاودنې درنه ملکي ...

وژل شوي او ټپيان دي.

دغه راز په دې حمله کې چې دبهرنيو خواکونو په کاروان شوېده پنځه تنه بهرني عسکر هم وژل شوي اوپنځه نور ټپيان شوي دي."

د کابل دامنيې قومندانۍ مرستيال جنرال دستيار څرګنده کړه چې په دې زوروره چاودنه کې اولس نقليه وسايط هم ويجاړ شوي چې پنځه يې بهرنيو خواکونو پورې مربوط دي.

ددې خان و ژونکي حملې مسووليت وسلوالو طالبانو منلی، دوسلوالوطالبانو وياند ذبيح الله مجاهد ادعا کوي چې دا ځان وژونکې حمله ديوه سپر کسټم ډوله موټرپه واسطه په بهرنيوخواکونوشوې اوهغوی ته يې درنه مرګ ژوبله اړولې ده، خو بهرنيوځواکونو لاتراوسه ددې حملې اوخپلوعسکروته دمرګ ژوبلې په اړه څه نه دي ويلي.